د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 425**

(9 مرغومی – 15 مرغومی 1402 هـ ش)

## د افغان کډوالو په زوره ویستل او د اسلامي امارت پالیسي



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

- د افغان کډوالو په زوره ويستل او د اسلامي امارت پاليسي ............................................. 3
- بهر ته د افغانانو د مهاجرت لاملونه ............................................................... 3
- ولې افغان کډوال اجباري ويستل کېږي؟ ............................................................... 5
- په ګاونډيو هيوادونو کې د افغان کډوالو اوسنی وضعيت ................................................... 6
- افغانستان ته له ستنيدو وروسته د کډوالو وضعيت ....................................................... 8
- د کډوالو په اړه د اسلامي امارت پاليسي ............................................................... 9
- پايله ............................................................................................... 9
- وړانديزونه ........................................................................................... 10
- مأخذونه ............................................................................................. 11

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغان کډوالو په زوره ویستل او د اسلامي امارت پالیسي

## سریزه

له څو لسیزو راهیسې افغانان د کډوالۍ او یا د خپل وطن پرېښودلو له اړخه له ډېرو زیان لیدونکو خلکو څخه شمیرل کیږي. که څه هم مهاجرت په نړۍ کې تر یوه حده په یوه کلتور بدل شوی، خو نورو هیوادونو ته افغان کډوال د ستونزمنو لارو تګ، د افغان کډوالو په وړاندې د کوربه هیوادونو پالیسۍ او همدارنګه نورو هیوادونو ته د افغانانو د مهاجرت عوامل، د نورو مهاجرتونو سره توپیر لري او د نړۍ د نورو هیوادونو د کډوالۍ په پرتله دا کډوالي ډېره سخته ده. له بلې خوا په افغانستان کې له څو لسیزو راهیسې نظامونه په هیڅ صورت نه دي توانیدلي چې د کډوالو په اړه خپله پالیسي عملي او تطبیق کړي، له همدې امله د یوې روښانه پالیسۍ د نه پلي کیدو له امله دغه هیواد کې د مهاجرت ډېرۍ لاملونه رامنځ ته شوي دي. له بلې خوا په افغانستان کې له څو کلونو راهیسې داسې واکمن حکومت نه وو چې د ګاونډیو هېوادونو له متقابلو اړیکو او دیپلوماتیک صداقت څخه یې ګټه پورته کړې وي. له همدې امله په افغانستان کې د حکومتونو او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د تفاهم نشتوالی د دې لامل شوی چې له افغان کډوالو سره ناسم او یا هم د بشري حقونو د اصولو او قوانینو خلاف چلند وشي.

که څه هم په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره د اسلامي امارت سیاستوالو د ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د تعامل لپاره متوازن بهرنۍ سیاست غوره کړی،[1] خو لاتر اوسه پورې د سیمې هیوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو هیوادونو د افغان کډوالو له ځورونې څخه نیولې تر په زوره شړلو پورې لاس وانخیست. په داسې حال کې چې له پاکستان څخه د زرګونو افغان کډوالو اجباري شړلو او له کډوالو سره د دغه هیواد د واکمن نظام نامناسب چلند د خبرونو او رسنیو په سرلیکونو کې ځای لري او په ملي او نړیواله کچه یې بېلابېل غبرګونونه را پارولي دي.

دا چې بهر ته د افغانانو د هجرت اصلي لاملونه څه دي؟ ولې ځورول شوي افغان کډوال د سیمې په ځانګړې توګه له ګاونډیو هیوادونو شړل کیږي؟ د کډوالو اوسنی حالت څه دی او په دې وروستیو کې د کډوالو په اړه د اسلامي امارت تګلاره څه ده؟ دا له مهمو پوښتنو څخه دي چې په دې مقاله کې به ځواب شي.

## بهر ته د افغانانو د مهاجرت لاملونه

بې له شکه په نننۍ نړۍ کې زیاتره مهاجرتونه د خپل برخلیک د ټاکلو، د ښه ژوند د غوره کولو او د مناسب کاري او تعلیمي شرایطو د رامنځته کولو په خاطر ترسره کیږي. خو افغانستان ته ډېری وخت له نورو هېوادونو څخه د کډوالو راستنېدل په زوره ترسره کېږي، په همدې توګه له ګاونډی هېواد څخه ډېری کډوال

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هم د بېلابېلو لاملونو له امله په زوره شړل شوي دي. په هرصورت، دلته به د مهاجرت ځینې خورا مهم عواملو ته اشاره وکړو چې په تېرو څو لسیزو کې په دې هیواد کې رامنځته شوي دي:

1. **جګړه او ناامني:** جګړه او ناامني له هېواده د افغانانو د کډوالۍ اصلي عامل بلل کېږي، د شلمې پېړۍ په اویایمې لسیزې کې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد له یرغل وروسته افغانستان تل د جګړو ډګر و او د بهرنیو هېوادونو د مداخلو له امله داخلي ناامني رامنځته شوه، چې د دغو جګړو په ترڅ کې څو میلیونه خلک د وطن پرېښودو ته اړ او په هجرت یې پیل وکړ. که څه هم د 1400 ه ش کال د اسد د میاشتې په 24 نېټه د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په هیواد کې جګړې او شخړې تر ډېره حده پای ته رسېدلې، خو بیا هم ځینې خلک د امنیت د نه شتون په پلمه مهاجرت کوي.
2. **خراب اقتصادي حالات:** که څه هم اسلامي امارت په ټولیزه توګه بهرنۍ سیاست اقتصاد محوره کړې[2] او له همدې امله د لویو ملي او سیمه ییزو پروژو په پیلولو سره د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره هڅې کوي. خو بې وزلي او وزګارۍ د افغانستان د خلکو له ډېرو عامو ستونزو څخه دي او د دې لامل شوي چې د دې هېواد خلک د خپلو اقتصادي اړتیاوو د پوره کولو لپاره مهاجرت وکړي. په هر حال، له څو لسیزو راهیسې فقر او وزګاري تل د دې هېواد د خلکو له ژوند سره ګډ شوي او کډوالۍ ته یې اړ کړي دي.
3. **تعلیمي شرایط:** په حقیقت کې د علم زده کړې او ظرفیت لوړونې لپاره مهاجرت د هیوادونو د اتباعو تر منځ یو له ګډ عاملونو څخه دی، د افغانستان خلک به هم په هیڅ صورت له دې څخه استثناء نه وي. وروسته له دې چې اسلامي امارت په افغانستان کې بیا ځلې واک تر لاسه کړ، د ښوونځیو دروازې یې تر شپږم ټولګي پورته او همدارنګه د پوهنتونونو دروازې یې هم د نجونو پر مخ وتړلې، چې په پایله کې یې د ټولنې یوه لویه برخه له زده کړو بې برخې شوه. که څه هم اسلامي امارت په نږدې راتلونکي کې د نجونو د تعلیم د څرنګوالي او د هغوی لپاره د سالم چاپیریال رامنځ ته کولو په اړه خبر ورکوي، خو دا کار د دې لامل شو، چې ځینې کورنۍ د خپلو لوڼو د زده کړو په موخه بهر ته کډه شي او د همدې مسئلې په تړاو د پوهنتونونو سلګونه استادان او نارینه محصلین هم بهر ته کډوال شول.
4. **شخصي غوښتنې:** په معاصره نړۍ کې ولسونه تل د پرمختللو ملتونو په شان د ټکنالوژۍ او د ژوند په نورو برخو کې د پرمختګ په لټه کې دي، په سیاسي مبارزو او مدني فعالیتونو کې داخل شوي او په یو نه یو ډول د خپل ځان، خپلوانو او ټولنې د برخلیک په ټاکلو کې رول لوبوي. له همدې امله ځینې هغه خلک چې دا ډول هیلې لري د ډېرو فرصتونو ترلاسه کولو لپاره مهاجرت کوي.

## ولې افغان کډوال اجباري ويستل کېږي؟

په دې اړه چې ولې افغان کډوال له نورو هېوادونو څخه شړل کېږي، غوره به وي چې دا مسئله د دوو مهمو او عمومي عواملو له نظره وڅېړل شي:

**1- داخلي عوامل:** ډېر داخلي عوامل شته چې د افغان کډوالو د ايستلو لامل ګرځي، چې ځينې يې دلته ذکر کوو.

- خراب اقتصادي وضعيت؛ دا چې د افغانستان خلک له ناوړه اقتصادي وضعيت سره لاس او ګرېوان دي، په ډېرى مواردو کې د کار لپاره په ناقانونه توګه بهر، په تېره بيا ګاونډيو هېوادونو ته کډوالۍ ته اړ کېږي او دا کار له کوربه هېواده د دوی د شړلو يو عمده لامل کيږي.

د پاسپورت د وېش بهير کې سستوالی؛ له بده مرغه په تېرو دوو کلونو کې عامو خلکو ته د پاسپورټونو د وېش بهير نورمال نه و، د بېلګې په توګه کله که څوک وغواړي پاسپورټ ترلاسه کړي، لږ تر لږه بايد يو کال يا شپږ مياشتې انتظار وباسي او نوم يې په ليست کې راشي، ترڅو هغه د تابعيت له دغه حق څخه برخمن شي له همدې امله اکثره کډوال په غيرقانوني توګه مهاجرت کوي، چې پخپله د دوی د شړلو لامل کيږي.

د سياسي ثبات نشتوالی؛ په تېرو څو لسيزو کې افغانستان له سياسي ثبات څخه برخمن نه و. همدارنګه له څه باندې دوو کلونو راهيسې اسلامي امارت په هيواد کې د سرپرست نظام په توګه کار کوي. له همدې امله ګاونډي او د سيمې هېوادونه د افغانستان د اوسني او راتلونکي وضعيت په دوام ډاډمن نه دي او له افغان کډوالو سره خپل تعامل له هيڅ نړيوال معيار او د بشري حقونو او ښه ګاونډيتوب له ارزښتونو په پام کې نيولو سره نه ترسره کوي.

**2- بهرني عوامل:** همدارنګه ډېر بهرني عوامل هم شته چې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند کيږی، چې تر ټولو مهم يې په لاندې ډول دي:

- د هيوادونو خراب امنيتي وضعيت؛ په دې وروستيو کې د سيمې هېوادونو په تېره بيا د ګاونډيو هېوادونو خراب امنيتي وضعيت له دغو هېوادونو څخه د افغان کډوالو د ايستلو يو له مهمو لاملونو څخه بلل شوی دی. د بېلګې په توګه د پاکستان هېواد په تېرو دوو کلونو کې د ډېرو ناامنيو شاهد دی او د پاکستان د حکومت چارواکي ادعا کوي چې د دغه هېواد په ناامنيو کې افغان اتباع لاس لري. لکه څنګه چې د پاکستان د کورنيو چارو پخواني وزير سرفراز بګټي په يوه خبري کنفرانس کې ويلي وو چې په پاکستان کې له ۲۴ بريدونو څخه ۱۴ يې د افغانانو له خوا ترسره شوي دي.[3] له بلې خوا د پاکستان په خيبر پښتونخوا ايالت کې له ترهګرۍ سره د مبارزې اداري په دغه هيواد کې په تيرو دوو کلونو کې له ۹۰ زيات افغان اتباع په ترهګريزو بريدونو کې

د لاس لرلو په تور نیولي دي.[4] په داسې حال کې چې د ګاونډیو هېوادونو په وړاندې د اسلامي امارت تګلاره روښانه ده او هغه دا چې د نورو هېوادونو په چارو کې لاسوهنه نه کوي او دوی باید خپلو چارو خپله ته پام وکړي.

دغه راز د ایران حکومت هم څو ځلې په لسګونو افغان کډوال په دې هیواد کې په عامه مظاهرو کې د ګډون او په ګډوډیو کې د لاس لرلو په تور له هېواده شړلي دي.[5] له همدې امله د افغانستان او ایران د پوله ساتو ځواکونو ترمنځ د پرله پسې نښتو سربېره او همدارنګه د ایران د حکومت د مخالفو ډلو له خوا د ایران او افغانستان په سرحدي ولایتونو کې پر ځینو ایراني پوستو بریدونه شوي چې ورته مهال له ایران څخه 328 زره افغان کډوال جبري شړل شوي، نو ویلای شو چې دا دواړه پېښې سره تړلې دي.[6]

خراب اقتصادي وضعیت؛ بې له شکه هغه هیوادونه چې د افغان کډوالو د شړلو پالیسي یې غوره کړې، مناسب اقتصادي وضعیت نه لري. که څه هم په دغو هیوادونو کې د کډوالو شتون او د کډوالو سیستماتیک کمپونه کولای شي دغو هیوادونو ته د کډوالو د ملاتړ لپاره نړیواله همکاري راجلب کړي، خو د پاکستان په څېر د دغو هېوادونو د کورنیو اسعارو بې ساري کمښت چې د روان کال په اسد میاشت کې د 1377 ه ش کال د مرغومي له لومړۍ نېټې راهیسې د امریکایي ډالر پر وړاندې د پاکستانۍ روپۍ ارزښت تر ټولو ډېر ټیټ شو.[7] دا د دې لامل شوی چې دغه هیواد په سخت اقتصادي حالت کې دی، د پاکستاني رسنیو د وروستیو راپورونو له مخې، له دغه هېواد څخه د افغان کډوالو له شړلو وروسته د افغان کارګرانو د شړلو له وجې د مسلکي کارګرو د کموالي په اړه شکایتونه خپاره شوي دي، خو د پاکستان سرپرست حکومت په دغه هیواد کې د خراب اقتصادي وضعیت په پلمه له افغان کډوالو څخه ناوړه ګټه پورته کړې او د دوی ایستل یې د نړۍ او افغان حکومت په وړاندې د فشار راوړلو لپاره د یوه انتخاب په توګه مطرح کړې ده.

همدارنګه یو شمېر ایرانیان په دې باور دي چې هیواد کې یې د کډوالو شتون د دوی کاری فرصتونه کم کړي دي او دوی د خپل هیواد په بد اقتصادي وضعیت کې په رول لوبولو تورنوي.

د بشري حقونو د سازمانونو نه پاملرنه؛ باید یادونه وشي چې په دې برخه کې نړیوالو سازمانونو او د بشري حقونو مدافعینو په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د مهاجرینو په زوره شړلو او د افغان مهاجرینو په وړاندې د کوربه هېوادونو نامناسب چلند ته کمه پاملرنه کړې او د افغان کډوالو لپاره یې د بهرنیو موسسو او حکومتونو سره هیڅ تړاو نه دي ورکړی او کوم جدی اقدامات یې ندي ترسره کړي.

## په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو اوسنی وضعیت

په بهر کې د افغان کډوالو وضعیت په دوو برخو ویشل کیدی شي، یو هغه کسان دي چې د قانوني اسنادو سره بل هیواد ته داخلیږي او دوهم هغه کسان دي چې په غیر قانوني توګه نورو هیوادونو ته داخلیږي.

بې له شکه زموږ د معلوماتو له مخې، ډېری هغه کسان چې په قانوني توګه د نورو هیوادونو ته ننوځي د اقتصادي ستونزو له امله درې یا شپږ میاشتې وروسته د خپل قانوني شتون اسناد، نشي نوي کولی. له بلې خوا، ډېری افغان کډوال هغه کسان دي چې په غیرقانوني توګه نورو هیوادونو ته ننوځي چې د کډوالو ترټولو زیان منونکې طبقه همدوی تشکیلوي. له همدې امله په عمومي توګه، دا ویل کیدی شي چې ټول هغه کډوال چې په غیرقانوني توګه کډوال شوي، دوی تل په وېره کې ژوند کوي کله چې د پردیو هېوادونو اړتیا لیدل کیږي، دوی ځوروي، زنداني کوي او یا یې تر شکنجې او توهین وروسته په زوره بیرته خپل هیواد ته ستنوي، چې ښکاره بېلګه یې د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان، ایران او ترکیې څخه د کډوالو جبري اخراج دی چې د افغان مهاجرینو راتګ سږ کال تقریباً بې سارې دی. که څه هم د پاکستان حکومت د یوه پلان له مخې اعلان وکړ چې د اسنادو نه لرلو ټول کډوال چې شمېر یې 1.73 میلیونه اټکل شوی دی، امر کړی چې د روان کال د نومبر تر میاشتې، چې د وروستیو راپورونو له مخې د نوي کال د فبروری تر ۲۹مې پورې غځول شوی دی له دغه هېواده ووځي.[8] د پاکستان کراچۍ ښار کې د اسلامي امارت د قونسلګری د راپور له مخې، د یوې اونۍ په ترڅ کې تر ۸۰۰ زیات افغان کډوال نیول شوي دي. دغه راز په اسلام اباد کې د افغانستان په سفارت کې د اسلامي امارت استازو هم د هغو کسانو نیول تایید کړل چې قانوني اسناد لري او زیاته یې کړه چې یو شمېر افغان کډوال په مرموز ډول د پاکستاني پولیسو له خوا تر نیول کېدو وروسته وژل شوي او ځینې یې شکنجه شوي دي.[9] که څه هم هره ورځ له پاکستان څخه د پولو له لارې په سلګونو کډوال افغانستان ته داخلیږي، خو په وروستیو دوو میاشتو کې د پاکستان د موقت حکومت له خوا د اخراج شویو کډوالو شمېر شاوخوا ۵۰۰ زره ښودل شوی دی.[10]

همدارنګه، افغان اتباع د ایران په اسلامي جمهوریت کې د میشتو کډوالو ترټولو لویه کچه جوړوي او د ملګرو ملتونو د راپور له مخې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو شمېر ۴،۵ میلیونو ته رسېږي، خو د ایران دولتي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو شمېر له ۵ میلیونو څخه تر ٦ میلیونو پورې دی. په هرصورت، د 2023 کال په لومړۍ نیمايي کې له ایران څخه افغانستان ته د راشړل شویو کډوالو شمیر شاوخوا 710 زره ثبت شوي چې له دې جملې څخه شاوخوا 310 زره په زور اخراج شوي او 400 زره یې په خپله خوښه راستانه شوي دي.[11] باید وویل شي چې په ایران کې افغان مهاجرین په فزیکي او روحي ځورونې او شکنجې ربړول شوي او سږ کال رسنیو په ایران کې د افغان مهاجرینو د ځورونې لسګونه پېښې ثبت کړې دي.

ترکیې هم د ۲۰۲۳ کال په لومړیو دریو میاشتو کې شاوخوا ۳ زره افغان کډوال په زوره ایستلي دي. تر دې مخکې په ۲۰۲۲ کال کې له ترکیې څخه د ایستل شویو کډوالو شمېر ۵۵ زرو ته رسېدلی و، چې د افغانستان د کورنیو رسنیو د راپورونو له مخې له ترکیې څخه ایستل شوي کډوال د دغه هېواد د پولیسو له خوا د وهلو ټکولو او نیول کېدو شکایت کړی و.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

باید ووایو، چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد له یرغل راهیسې، د دغه هېواد کډوال تل د ګاونډیو هېوادونو له خوا ځورول شوي او په زور ایستل شوي دي.

## افغانستان ته له ستنیدو وروسته د کډوالو وضعیت

د کډوالۍ ځینې عوامل ښایي تر اوسه پورې په افغانستان کې پاتې وي. په بهر کې د افغان کډوالو خراب حالت او د افغان کډوالو په وړاندې د بهرنیو هیوادونو ناسم او نامناسب چلند هیواد ته د راستنیدو او پاتې کیدو سره نشي پرتله کیدی.

په تیرو دوو میاشتو کې له پاکستان څخه د راستنیدونکو کډوالو د ژوند د حالاتو څېړنه پراخو ساحوي څېړنو ته اړتیا لري، خو بیا هم کېدای شي دلته ورته یو څه لنډه اشاره وکړو:

په تیرو دوو میاشتو کې له نیم میلیون څخه ډیر کډوال په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شوي، چې ځینې یې له څلویښتو کلونو راهیسې هلته اوسیدل، دوی له خپلو ماشومانو او کورنیو سره بې له کوم اسانتیاوو او یا خورا محدودو اسانتیاوو سره راستانه شوي دي.د راپورونو له مخې د کډوالو د ډله ییز اخراج، په لومړیو لسو یا پنځلسو ورځو کې کډوال د ډیورنډ پر کرښه ډیر خراب حالت درلود. تر دې چې ویل کیږي کورنیو خپل ماشومان ورک کړي وو او کډوالو هیڅ ډول لومړني اسانتیاوو ته لاسرسی نه لاره،[12] خو اوس د اسلامي امارت، د کورنیو او بهرنیو خیریه مؤسسو او بنسټونو د زیار په پایله کې په کمپونو کې د میشت کډوالو حالت عادي شوی دی. تر دې دمه د کډوالو د ځینو اړتیاوو لکه خیمو، کمپلو، کالیو او خوراکي توکو په پاخه یا خام شکل کې د پوره کولو هڅې شوي او په یو شمیر کډوالو ځمکې ویشل شوي دي، خو د ژمي سړې هوا ته په پام سره د عیني شاهدانو د څرګندونو له مخې، کډوالو ته د لا جدي همکارۍ اړتیا احساسیږي، ځکه چې د مهاجرو لپاره یوازې د ژمي په جامو کې ژوند کول ستونزمن دي چې په خیمو کې د کمپلې لاندې ژمی تیر کړي حصوصا هغه کډوال چې له لسو کلونو څخه زیات یې له خپلو کورنیو سره له هیواده بهر تېر کړي.[13] ځینې یې هیواد کې استوګنځي نلري، نو د اسلامي امارت حکومت ته پکار ده چې دغه ډول وګړو ته د کور په جوړولو کې فکر وکړي او په اړه یې د کورنیو او بهرنیو موسسو همکاري جلب کړي او د دوی لپاره د اوسیدو مناسب ځای پیدا کړي. د دې موضوع په پای کې دې پایلې ته رسیږو چې په افغانستان کې له بهر څخه د راستنیدونکو کډوالو وضعیت ممکن په پیل کې له ځینو ننګونو سره مخ وي، اسلامي امارت او خیریه او مرستندویه موسسې باید خپلې ډیرې هلې ځلې وکړي او د دوی لپاره همکارۍ جذب کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د کډوالو په اړه د اسلامي امارت پالیسي

ظاهراً د اسلامي امارت پالیسي له افغان کډوالو په اړه نرمه ده، د کار له پیل څخه تر اوسه یې تل له هیوادوالو غوښتي چې له هیواده ونه وځي او په بهر کې میشتو افغانانو ته یې هم هیواد ته د بیرته راستنېدو غوښتنه کړې ده.[14] له بلې خوا اسلامي امارت د صنایعو او سوداګرۍ وزارت او نورو اړوندو وزارتونو او ادارو ته لارښوونه کړې چې د راستنیدونکو سوداګرو، پانګوالو او صنعتکارانو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. له بلې خوا د اسلامي امارت چارواکو ګاونډیو هیوادونو ته د خپلو سفرونو په ترځ کې د هغو هیوادونو له چارواکو سره د کډوالو د وضعیت په اړه خبرې وکړې او ډاډ یې ورکړ چې افغان کډوال د دغو هیوادونو په ستونزو او بې ثباتۍ کې لاس نه لري او له ګاونډیو هېوادونو یې وغوښتل چې له افغان کډوالو سره سم چلند وکړي.

خو له افغان کډوالو سره د سم چلند په اړه د اسلامي امارت له پرله پسې غوښتنو سره سره ګاونډیو هیوادونو د افغان کډوالو په زور اخراج او ځورولو پیل وکړ. په دې وروستیو کې د پاکستان حکومت د ځینو افغان کډوالو ټول ملکیتونه ضبط کړي او له پنځوس زره افغانیو څخه د زیاتو پیسو د انتقال اجازه یې هم ورنه کړه، خو په افغانستان کې د اسلامي امارت د بیاځلي واکمنېدو وروسته له هېوادونو په ځانګړې توګه له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغان کډوالو د ایستلو لړۍ چټکه شوې ده.[15] چې سږ کال د افغان کډوالو اخراج، وهل ټکول او نیول د هیواد په تاریخ کې یو بې ساری ریکارډ او له افغان کډوالو سره د بد تعامل په توګه ګڼل کیدای شي.

دا چې دا مهال افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ دی او هېواد ته د کډوالو راستنېدل بې ساري دي، اسلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه له پاکستان څخه د راستنېدونکو کډوالو په برخه کې له هېڅ ډول همکارۍ څخه ډډه نه ده کړې. د هغو راپورونو له مخې چې مونږ تر لاسه کړي، د اسلامي امارت او خیریه بنسټونو له لوري له کډوالو سره په بېلابېلو برخو کې د خوراکي توکو، جامو او نورو برخو کې مرستې شوي او همدارنګه د کډوالو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه په بېلابېلو چارو کې د مرستې په موخه کمیټې جوړې شوي دي. لکه د اهل کار خلکو لپاره د کار موندنې کمیټه، دوی ته د خدماتو چمتو کولو کمېټه او د نورو اړتیاو د پوره کولو لپاره کمیټې جوړې شوی دي. بې له شکه چې دا کار د کډوالو په برخه کې مثبت ارزول کیږي او له ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې توګه له پاکستان څخه را ایستل شویو کډوالو ستونزو ته د اسلامي امارت رسیدنه او هغوی ته استقبال یو غوره عمل بلل کیدای شي.

## پایله

ممکن د کډوالو سره د همکارۍ یا هیواد ته د بیرته راستېدونکو کډوالو ستونزو ته د رسیدنې څخه، ترټولو مهم پام باید په یو هیواد کې د کډوالۍ عوامل لرې کول وي. که څه هم په افغانستان کې هر نظام


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چې واک ته رسېدلې د کډوالو او کډوالۍ په وړاندې يې نرمه تګلاره غوره کړې، خو اکثره يې د مهاجرت د عواملو د له منځه وړلو او د دغه هيواد د اتباعو د راستنيدو لپاره د زمينې په برابرولو کې پاتې راغلي دي.

خو د پورتنيو مواردو په نظر کې نيولو سره اسلامي امارت د کډوالو په چارو کې د خپلې پاليسۍ په پلي کولو کې جدي ښکاري. له همدې امله هيله ده چې اسلامي امارت دا تګلاره پلې کړي او په هيواد کې د مهاجرت ټول عوامل له منځه يوسي او د کډوالو د راستنيدو لپاره زمينه برابره کړي.

## وړاندېزونه

پورتنيو ستونزو ته په کتو، د بشري ناورين د مخنيوي او له اوسني بحراني حالت څخه د افغانانو د ژغورلو په موخه په بهرني او داخلي سطحه لاندي وړانديزونه کوو:

**بهرني**

- د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د ترينګلو سياسي اړيکو له امله بايد له افغان کډوالو څخه د سيمې د هيوادونو له خوا د سياسي فشار د وسيلې په توګه کار وانخيستل شي، کډوال بايد په زوره ايستل، وهل او يا توقيف نه شي.

- که څه هم جګړه او ناامني چې بهر ته د افغانانو د کډوالۍ اصلي لاملونه بلل کېږي، چې اوس حالت د ښه کېدو په حال کې دي، خو د بې وزلۍ او بېکارۍ په څېر ګڼې نورې ستونزې هم شته چې د افغانانو د کډوالۍ لامل ګرځي، نو په کار ده چې ګاونډي هيوادونه د افغان کډوالو د زغملو په اړه په خپلو سياستونو او پاليسيو کې له سره کتنه وکړي.

- د ګاونډيو هيوادونو له خوا د افغان کډوالو جبري شړل، د هغوی ځورول او نيول د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو ښې اړيکې له خطر سره مخامخ کوي، د ملتونو تر منځ د نا اميدۍ احساس زياتوي او په پايله کې يې پر ډيپلوماتيکو اړيکو اغيز کوي.

- ګاونډي هيوادونه بايد کډوالو ته د مهاجرت کارتونو په ورکولو کې سخت نه وي. ځکه د پاکستان په څېر په ځينو هېوادونو کې له څلوېښتو کلونو تېرولو وروسته، يو شمېر کډوال د دغه هېواد د پوليسو له ناسم چلند سره مخ شول او په زوره وويستل شول.

- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ (UNHCR) او د مهاجرت نړيوال سازمان (IOM) ته په کار ده چې په هيوادونو کې د افغان کډوالو د جبري اخراج او ځورونې په اړه د عملي کړنو سره خپل رول ولوبوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## داخلي

• د افغانستان دولت باید هڅه وکړي چې په بهر کې میشتو افغان کډوالو ته د راستنیدو زمینه برابره کړي تر څو هغوی هیواد ته راستانه شي او د هیواد د آبادۍ او د خپلې سوکالۍ لپاره کار وکړي.

• د اسلامي امارت مسؤلین دي د کډوالو چارو ته د رسیدو په موخه په هیواد کې د ملي او بین المللي همکارۍ د جلبولو او د کډوالو په چارو کې د امارت د پالیسي په پلي کولو کې هلې ځلې وکړي، تر څو د کډوالو ټولې اړتیاوې پوره شي.

• د افغانستان اسلامي امارت باید هڅه وکړي چې د خیریه بنسټونو او مرستندویه موسسو ترمنځ لا زیاته همغږي رامنځته کړي، تر څو په ټول هیواد کې د کډوالو ستونزو ته د اړتیا په وخت کې رسیدګي وکړي.

• اسلامي امارت ته لازمه ده چې د خیریه موسسو او نورو هغو مؤسساتو لپاره چې مرستندویه فعالیتونه لري، لا زیاتې مناسبې زمینې برابرې کړي، تر څو هغوی هم د کډوالو په چارو کې د زیاتو ملي او نړیوالو مرستو د جلبولو هڅې وکړي.

• د افغانستان حکومت هم مسولیت لری چې د مهاجرت په قانوني پروسه کې اسانتیاوي تېزي کړي او د هغو افغانانو لپاره چې غواړي هجرت وکړي د پاسپورټونو د ویش پروسه چټکه کړی. **پای**

## مأخذونه

---

[1]. وزارت امور خارجه، (1402)، ژورنال مطالعات استراتیژیک، شماره مسلسل: 58، ص 8، کابل، افغانستان.

[2]. وزارت امور خارجه، (1402)، ژورنال مطالعات استراتیژیک، شماره مسلسل: 58، ص 10، کابل، افغانستان.

[3]. وزیر داخله پاکستان؛ ویدئو: https://www.youtube.com/watch?v=8TalfGmZfQk

[4]. طلوع نیوز: رد ادعای اداره مبارزه ... 3 جدی 1402 ه.ش؛ لینک: https://tolonews.com/fa/afghanistan-186643

[5]. رادیو آزادی: ایران دهها پناهجوی افغان... 14 عقرب 1402 ه.ش؛ لینک: https://da.azadiradio.com/a/32109464.html

[6]. DW: گزرش: ایران در 10 روز...، 6 عقرب 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.dw.com/fa-af/%DA%AF%D8%B2%D8%A7%D8%B1%D8%B4-%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%DB%B1%DB%B0-%D8%B1%D9%88%D8%B2-%DB%B2%DB%B4-%D9%87%D8%B2%D8%A7%D8%B1-%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86-%D8%B1%D8%A7-%D8%A7%D8%AE%D8%B1%D8%A7%D8%AC-%DA%A9%D8%B1%D8%AF/a-67564698

[7]. BBC: چرا پاکستان تصمیم گرفت پناهجویان...، 9 عقرب 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.bbc.com/persian/afghanistan-67273023

[8]. Pars Today:(1402)، سازمان ملل؛ اوضاع در افغانستان؛ لینک:
https://parstoday.ir/dari/news/afghanistani233188%D8%B3%D8%A7%D8%B2%D9%85%D8%A7%D9%86_%D9%85%D9%84%D9%84_%D8%A7%D9%88%D8%B6%D8%A7%D8%B9_%D8%AF%D8%B1_%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86_%D8%A7%D8%B6%D8%B7%D8%B1%D8%A7%D8%B1%DB%8C_%D8%A7%D8%B3%D8%AA?__cf_chl_rt_tk=5LldA1S1rxMO95WFl0WjQVoMKBi470oSEelUlrscJFA-1703148837-0-gaNycGzND1A

[9]طلوع نیوز: (1402)، بازداشت بیش از...؛ لینک: https://tolonews.com/fa/afghanistan-185152

[10]. پژواک: روز جهانی مهاجرین؛ پاکستان در ...، 28 عقرب سال 2024 ه.ش؛ لینک:
https://pajhwok.com/fa/2023/12/19/international-day-of-immigrants-pakistan-has-forcibly-deported-more-than-half-a-million-afghans-in-the-last-two-months/#:~:text=%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1%D9%8A%D9%86-,%D8%B1%D9%88%D8%B2%20%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86%DB%8C%20%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1%DB%8C%D9%86%D8%9B%20%D9%BE%D8%A7%DA%A9%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86%20%D8%AF%D8%B1%20%D8%AF%D9%88%20%D9%85%D8%A7%D9%87%20%DA%AF%D8%B0%D8%B4%D8%AA%D9%87%20%D8%A8%DB%8C%D8%B4%20%D8%A7%D8%B2,%D8%B1%D8%A7%20%D8%AC%D8%D8%AC%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%8B%20%D8%A7%D8%AE%D8%B1%D8%A7%D8%AC%20%D8%B4%D8%AF%D9%87%20%D8%A7%D9%86%D8%AF.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[11]. رزگار سلیمی، آخرین آمار مهاجرت از افغانستان به ایران، 29 سنبله 1402 ه.ش؛ لینک:
https://diaran.ir/12335/%D8%A2%D8%AE%D8%B1%DB%8C%D9%86-%D8%A2%D9%85%D8%A7%D8%B1-%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1%D8%AA-%D8%A7%D8%B2-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D9%87-%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7/

[12]. حضرت نبی نبی زاده، مسؤول نهاد خیریه نجم در ولایت ننگرهار و کمپ مهاجرین اخراج شده از سوی پاکستان.

[13]. عبدالفتاح جواد، مسؤول عمومی نهاد خیریه احساس، یکتن از شاهدان عینی از وضعیت مهاجرین.

[14]. امارت اسلامی افغانستان؛ اعلامیه امارت اسلامی در رابطه...، 9 عقرب سال 1402 ه، ش، لینک:
https://www.alemarahdari.af/announcement/

[15]. تابناک: تخریب خانه های مهاجران افغان، 8 قوس سال 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.tabnak.ir/fa/news/1207342/%D8%AA%D8%AE%D8%B1%DB%8C%D8%A8-%D8%AE%D8%A7%D9%86%D9%87-%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D9%85%D8%B5%D8%A7%D8%AF%D8%B1%D9%87-%D8%A7%D9%85%D9%88%D8%A7%D9%84-%D9%BE%D9%86%D8%A7%D9%87%D8%AC%D9%88%DB%8C%D8%A7%D9%86

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000